سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۷/۱۵

# سوله که انتخابات؟

په افغانستان کی د سولی د پروسی له پیل نه تر ننه پوری مو ډیر څه واوریدل. خو په دی هیڅ و نه پوهیدلو چی له پیل نه تر اوسه په دی پروسه کی څومره پرمختګ شویدی، په کومو ټکو خبری او موافقه شویده او کومی ستونزی لا په مخ کی پرتی دی؟

په دوحا کی د خبرو د اوم پړاو نه وروسته د متحده ایالاتو د استازی ډاکټر زلمی خلیلزاد له هغو مرکو نه چی د نړیوالو رسنیو سره یی وکړی داسی هیله مندی پیدا شوه چی د سولی د تامین د پاره به نور ډیر منتظر و نه اوسو. خو په قطر کی د طالبانو د ویاند ملا شاهین له خولی چی کومی خبری رسنیو سره شویدی داسی ځرګندوی چی اصلاً تر اوسه په یوی موضوع هم پوره او ډاډمنه موافقه نه ده شوی.

که د دی خبرو نه ورتیر شو ، په اوس وخت کی د هیواد والو سره دوه پوښتنی په هر ډول ناستو کی د خبرو اجندا جوړوی چی کومه موضوع لومړیتوب لری سوله که انتخابات؟

دی پوښتنی ته هره سیاسی ډله، هر آزاد سیاستوال او د سیاسی چارو هر شنونکی د خپل تحلیل سره سم ځواب ورکوی. دوی ټول سوله یو داسی ضرورت بولی چی هیڅ شی ورسره نشی برابریدلی، خو په دی برخه کی بیا سره د نظر اختلاف لری چی که یو منتخب دولت وجود ونه لری طالبان د چا سره او د طالبانو سره څوک سوله کوی؟ په داسی حال کی چی طالبان ادعا لری چی د ملت قاطع اکثریت له دوی سره دی او دولت وایی چی زمونږ دولتی سیستم په ټول هیواد کی موجود دی او د نړی د ټولو هیوادونو سره دیپلوماتیکی اړیکی لری او طالبان یوه مخالفه وسله واله ډله ده چی باید سوله ورسره وشی، په دولت کی را شریک شی او د جنګ جګړی نه لاس واخلی.دا هسی ټکي دي چی وړاند وینه ورته ډیره ستونزمنه ده، چی څنګه سوله به زمونږ هیواد ته را ځی؟

زما په خیال طالبان نه غواړی چی د جمهوری ریاست انتخاتاب تر سره شی، خو ولی یی نه غواړی؟ ځکه چی طالبان له انتخاباتو نه ویره لری: هغوی پوهیږی چی که انتخابات تر سره شی او د موجوده دولت ځای چی د جان کیری په غوښتنه را منځ ته شوی، یو بل هسی منتخب دولت و نیسی چی په ملی او نړیواله سویه یی مشروعیت و منل شی، نو بیا خو هم اساسی قانون و منل شو، هم د اوسنی موجود نظام او سیستم د شتون او په ځای پاتی کیدو سره موافقه وشوه او هم د بیا امارت جوړونی د پاره ټولی هلی ځلی په اوبو لاهو شوی. نو له دی ویری طالب له ټاکنو نه ویره لری او مخالفت ورسره کوی.

دډیروهغو کسانو له خولو څخه چی د سیاسیونو په نوم یی همدا اوس د افغانستان دسولی په خبرو کی ځان ورګډ کړیدی، اوریدل کیږی چی طالبان بدل شویدی او د پخوانی دوری د بیا جوړیدو او احیا کیدو فکر ورسره نشته دی. زه دی خبری ته څکه بیخی



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

حیران یم چی طالبان څنګه بدل شویدی؟ ایا هغه اعمال چی دوی پرون سرته رسول لکه، سنګسار، د لاسونو غوڅول، په جادو کی د پردیو ښځو په متروکو وهل، د تصویری رسنیو محوه کول د تلویزیون اعدامول او په لنډه توګه د امر معروف او نهی منکر د اصولو تطبیق ( چی همدا اوس یی هم د خپل نفوذ په ساحه کی په همامغه شدت چلوی) ، اسلامی اعمال وو او کنه؟ که اسلامی جواز یی لرووده نو ایا نن کومه بله وحیی راغلی چی دوی د دی اعمالو د تر سره کولو نه تیر شویدی؟ او که دا قوانین چی دوی پرون د اسلام په نوم تطبیقول او نن یی هم په ځینو برخو کی عملی کوی اسلامی نه وی، نو بیا دوی دا پنځه لس کاله ولی دا په زرګونو انسانان ( دواړو لورو ته) د جهاد په نوم په شهادت ورسول؟ دی پوښتنو ته کوم ځواب شته؟

زه د نورو دوستانو په فکرونو نه پوهیږم خو خپله په دی باور یم چی د طالبانو په تفکر کی د یوی زری په اندازه بدلون هم نه راغلی او نه به راشی. صرف طالبان اوس د پخوا په نسبت د سیاسی لوبی په مخ ته بیولو کی د ځینو داخلی او خارجی مشاورینو سره په مشورو کی په دی پوهیدلی دی چی څنګه او په کومه طریقه بیرته په افغان دولت کی راشریک شی او په داسی توګه را شریک شی چی د قدرت یوه درنه برخه ورته ورسیږی، او کله چی دوی مطمئن شول چی اوس نور د امریکا او د غرب د حملو لاندی نه راځی، څکه د هغوی د ګټو په وړاندی حنډ نه جوړیږی او د بشر د حقوقو د پښو لاندی کولو پروا د غرب سره هم نشته نو بیا به همامغه حالت وی لکه اته لس کاله پخوا چی یی وجود درلود. نو د همدی ویری له کبله ماته د نامکملی سولی نه چی د یوه قانونی دولت په نه شتون کی را منځ ته کیږی، د یوه قانونی دولت د را منځ ته کیدو د پاره د جمهوری ریاست ټاکنی ډیری اړینی او مهمی بریښی.

ترڅو چی مونږ یو مشروع قانونی دولت و نه لرو تر هغی زمونږ په هیواد کی نه سوله راتللی شی، نه ویره له منځه تللی شی او نه د مغرضسلطان جان کلیوال

سوله که انتخابات؟

په افغانستان کی د سولی د پروسی له پیل نه تر ننه پوری مو ډیر څه واوریدل. خو په دی هیڅ و نه پوهیدلو چی له پیل نه تر اوسه په دی پروسه کی څومره پرمختګ شویدی، په کومو ټکو خبری او موافقه شویده او کومی ستونزی لا په مخ کی پرتی دی؟

په دوحا کی د خبرو د اوم پړاو نه وروسته د متحده ایالاتو د استازی ډاکټر زلمی خلیلزاد له هغو مرکو نه چی د نړیوالو رسنیو سره یی وکړی داسی هیله مندی پیدا شوه چی د سولی د تامین د پاره به نور ډیر منتظر و نه اوسو. خو په قطر کی د طالبانو د ویاند ملا شاهین له خولی چی کومی خبری رسنیو سره شویدی داسی څرګندوی چی اصلاً تر اوسه په یوی موضوع هم پوره او دادمنه موافقه نه ده شوی.

که د دی خبرو نه ورتیر شو ، په اوس وخت کی د هیواد والو سره دوه پوښتنی په هر ډول ناستو کی د خبرو اجندا جوړوی چی کومه موضوع لومړیتوب لری سوله که انتخابات؟

دی پوښتنی ته هره سیاسی ډله، هر آزاد سیاستوال او د سیاسی چارو هر شنونکی د خپل تحلیل سره سم ځواب ورکوی. دوی ټول سوله یو داسی ضرورت بولی چی هیڅ شی ورسره نشی برابریدلی، خو په دی برخه کی بیا سره د نظر اختلاف لری چی که یو منتخب دولت وجود ونه لری طالبان د چا سره او د طالبانو سره څوک سوله کوی؟ په داسی حال کی چی طالبان ادعا لری چی د ملت قاطع اکثریت له دوی سره دی او دولت وایی چی زمونږ دولتی سیستم په ټول هیواد کی موجود دی او د نړی د ټولو هیوادونو سره دیپلوماتیکی اړیکی لری او طالبان یوه مخالفه وسله واله ډله ده چی باید سوله ورسره وشی، په دولت کی را شریک شی او د جنګ جګړی نه لاس واخلی.دا هسی ټکي دي چی وړاند وینه ورته ډیره ستونزمنه ده، چی څنګه سوله به زمونږ هیواد ته را ځی؟

زما په خیال طالبان نه غواړی چی د جمهوری ریاست انتخاتاب تر سره شی، خو ولی یی نه غواړی؟ څکه چی طالبان له انتخاباتو نه ویره لری: هغوی پوهیږی چی که انتخابات تر سره شی او د موجوده دولت ځای چی د جان کیری په غوښتنه را

منځ ته شوی، یو بل هسی منتخب دولت و نیسی چی په ملی او نړیواله سویه یی مشروعیت و منل شی، نو بیا خو هم اساسی قانون و منل شو، هم د اوسنی موجود نظام او سیستم د شتون او په ځای پاتی کیدو سره موافقه وشوه او هم د بیا امارت جوړونی د پاره ټولی هلی ځلی په اوبو لاهو شوی. نو له دی ویری طالب له ټاکنو نه ویره لری او مخالفت ورسره کوی.

دډیروهغو کسانو له خولو څخه چی د سیاسیونو په نوم یی همدا اوس د افغانستان دسولی په خبرو کی ځان ورګډ کړیدی، اوریدل کیږی چی طالبان بدل شویدی او د پخوانی دوری د بیا جوړیدو او احیا کیدو فکر ورسره نشته دی. زه دی خبری ته ځکه بیخی حیران یم چی طالبان څنګه بدل شویدی؟ ایا هغه اعمال چی دوی پرون سرته رسول لکه، سنګسار، د لاسونو غوڅول، په جادو کی د پردیو ښځو په متروکو وهل، د تصویری رسنیو محوه کول د تلویزیون اعدامول او په لنډه توګه د امر معروف او نهی منکر د اصولو تطبیق ( چی همدا اوس یی هم د خپل نفوذ په ساحه کی په هماغه شدت چلوی) ، اسلامی اعمال وو او کنه؟ که اسلامی جواز یی لروده نو ایا نن کومه بله وحیی راغلی چی دوی د دی اعمالو د تر سره کولو نه تیر شویدی؟ او که دا قوانین چی دوی پرون د اسلام په نوم تطبیقول او نن یی هم په ځینو برخو کی عملی کوی اسلامی نه وی، نو بیا دوی دا پنځه لس کاله ولی دا په زرګونو انسانان ( دواړو لورو ته) د جهاد په نوم په شهادت ورسول؟ دی پوښتنو ته کوم ځواب شته؟

زه د نورو دوستانو په فکرونو نه پوهیږم خو خپله په دی باور یم چی د طالبانو په تفکر کی د یوی زری په اندازه بدلون هم نه راغلی او نه به راشی. صرف طالبان اوس د پخوا په نسبت د سیاسی لوبی په مخ ته بیولو کی د ځینو داخلی او خارجی مشاورینو سره په مشورو کی په دی پوهیدلی دی چی څنګه او په کومه طریقه بیرته په افغان دولت کی راشریک شی او په داسی توګه را شریک شی چی د قدرت یوه درنه برخه ورته ورسیږی، او کله چی دوی مطمئن شول چی اوس نور د امریکا او د غرب د حملو لاندی نه راځی، ځکه د هغوی د ګټو په وړاندی حٔد نه جوړیږی او د بشر د حقوقو د پښو لاندی کولو پروا د غرب سره هم نشته نو بیا به همغه حالت وی لکه اته لس کاله پخوا چی یی وجود درلود. نو د همدی ویری له کبله ماته د نامکملی سولی نه چی د یوه قانونی دولت په نه شتون کی را منځ ته کیږی، د یوه قانونی دولت د را منځ ته کیدو د پاره د جمهوری ریاست ټاکنی ډیری ارینی او مهمی بریښی.

ترڅو چی موږ یو مشروع قانونی دولت و نه لرو تر هغی زموږ په هیواد کی نه سوله راتللی شی، نه ویره له منځه تللی شی او نه د مغرضو ګاونډیو له شومو اغراضو نه په امان کی پاتی کیدلی شو. ځکه پوهیږو چی د سولی پروسه اوږده ده باید راتللو ته یی دقیق او هر اړ خیز کار وشی، اما د قانونی دولت شتون د سولی د پاره تر بلی هری وسیلی نه ماته مهم ښکاری چی د شفافو او رڼو انتخاباتو له لاری منځ ته را تللی شی. نو ځکه وایم چی اول شفاف انتخابات او بیا د تل پاتی سولی د پاره هلی ځلی . پای

و ګاونډیو له شومو اغراضو نه په امان کی پاتی کیدلی شو. ځکه پوهیږو چی د سولی پروسه اوږده ده باید راتللو ته یی دقیق او هر اړ خیز کار وشی، اما د قانونی دولت شتون د سولی د پاره تر بلی هری وسیلی نه ماته مهم ښکاری چی د شفافو او رڼو انتخاباتو له لاری منځ ته را تللی شی. نو ځکه وایم چی اول شفاف انتخابات او بیا د تل پاتی سولی د پاره هلی ځلی . پای

## یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

سوله که انتخابات؟

kliwal_s_٤٥_sola_ka_entekhaabaat.pdf